# د مُعاف کولو فضیلت

مع

# یو اهم مَدَني وَصِیّت




شیخ طریقت، اَمیرِ اَہلسُنّت، بانیٔ دعوتِ اِسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بِلال

**مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة


پښتو ترجمه:
مجلسِ تراجم
(دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ اِنْ شَآءَاللهتعالٰی څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ! په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج ص۰، دار الفکر بيروت)

طالب غم مدينه بقيع ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالے نوم: **د مُعـاف کولو فضيلت مع يو اهم مَـدَني وَصِيّت**

اول ځل: ---------------

تعداد: .................

ناشِر: مَكْتَبَةُ الْمَدِينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ الْمدينه کراچئ.

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته**

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډنګ کښې مخکښې روسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# د مُعـاف کولو فضیلت
مع
# یو اهم مَـدَني وَصِیّت

د شیخ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د بیان دا رِساله "*عفو ودر گزر کی فضیلت مع ایک اہم مدنی وصیت*" په اردو ژبه کښې لیکلې شوې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمے، زیاتے اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش: مجلسِ تَراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگراں
پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

# فہرست

| عنوان | نمبر |
|---|---|
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْن
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د مُعاف کولو فضیلت مع

# یو اَهم مَدَني وَصِیّت

غالِباً چه شیطان به مو دي رسالے لوستلو ته نه پریږدي خو تاسو دا رساله پوره اولولئ او د شیطان وار ناکامه کړئ.

## د دُرُود شریف فضیلت

د مدینے مُنَوَّرے تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اے خلقو! بیشکه په ورځ د قیامت به د هغے د ویرو او حساب کتاب نه زر خلاصے موندونکے کس هغه وي چا چه په تاسو کښې په ما باندې په دُنیا کښې په کثرت سره دُرُود شریف وئیلے وي.“ (مُسنَدُ الْفِرْدَوْس ج، ص حدیث ۰)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مَدَني آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم مُعاف کول

د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ بیان دے چه زه د نبيِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره روان ووم او خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يو نَـجراني څادر په سر کړے وو چه د هغے غاړې پيړې او زَکے وې، يو دم يو بَدو (يعني د عرب شريف د يو كلي اوسيدونکي) د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څادر مبارك اونيوو او په دومره زبردسته جَټکه ئې راښكلو چه د نبِـيِّ رَحمت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څټ مبارك د څادر په غاړه باندې اوكريدو [يعني زخمي شو] ، هغه اُووئيل د الله تعالیٰ كوم مال چه تاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره دے، تاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حُکم ورکړئ چه د هغے نه ما ته څه راکړے شي. رَحمَتِ عالِم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه طرف ته متوجِّه شو او مُسکے شولو بيا ئې هغه ته د څه مال ورکولو حُکم ورکړو. (صَحِیح بُخاری ج ص حديث)

ہر خطا پر مِری چشم پوشی ہر طلب پر عطاؤں کی بارش

مجھ گناہگار پر کس قدر ہیں مہرباں تاجدارِ مدینہ

زما په هره خطا مُعافي، په هر طلب د عطا باران

په ما ګنهګار څومره دے مهربانه تاجدارِ مدینه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! مَدَنـي آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بَدُو سره څومره ښه سُلوك اوكړو، د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! كه څوك هر څومره تكليف دركړي، زړه مو خفه كړي!

بس د معاف کولو او بخښلو نه کار اخلئ او هغه سره د مَحبَّت نه ډك سُلوك کولو کوشش کوئ.

## په حِساب کښې د آسانئ درې سببونه

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چه رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: درې خبرې چه په کوم کس کښې وي الله تعالٰی به (د قيامت په ورځ) د هغه حساب په ډيره آسانه طريقه اخلي او هغه به په خپل رَحمت جَنَّت ته داخلوي. صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه کومې خبرې دي؟ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: ﴿۱﴾ څوك چه تا محروم کړي ته هغه ته عطا کړه او ﴿۲﴾ څوك چه تا سره قطعِ تَعَلُّق اوکړي (يعني تَعَلُّق پرېږدي) ته د هغه سره جوړ اوکړه [يعني تعلق جوړ کړه] او ﴿۳﴾ څوك چه په تا ظُلم اوکړي ته هغه مُعاف کړه. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط لِلطَّبَرانِی ج٤، ص١٨ حديث ٥٠٦٤ دار الفکر بيروت)

## د جَنَّت محل

د حضرتِ سَيِّدُنا اُبَـی بِن كَـعْـب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چه حُضُورِ اکرم، رَسُولِ مُحتَشَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: چا ته چه دا خوښه وي چه د هغه د پاره (په جَنَّت کښې) محل جوړ کړے شي او د هغه درجات اوچت کړے شي، هغه ته پکار دي چه څوك

په هغه ظُلم اوكړي دا هغه مُعاف كړي او څوك چه هغه محروم كړي دا هغه ته عطا [يعني وركړه] اوكړي او څوك چه د هغه سره قطعِ تَعَلُّق اوكړي [يعني تَعَلُّق پريږدي] دا د هغه سره تَعَلُّق جوړ كړي. (اَلْمُستَدرَك لِلْحَاكِم ج٣. ص١٢. حديث٣٢١٥ دارالمعرفة بيروت)

## په مُعاف كولو عِزَّت زياتيږي

د خَاتَمُ الْمُرْسَلِيْن، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په صَدَقه وركولو مال نه كميږي او چه بنده د چا قصور مُعاف كړي نو الله تعالىٰ به د هغه (يعني د مُعاف كوونكي) عِزَّت زياتوي او څوك چه د الله تعالىٰ د پاره تَواضُع (يعني عاجِزي) اوكړي، الله تعالىٰ به هغه ته اوچت والے وركړي. (صحيح مُسلِم ص١٣٩٨ حديث٢٥٨٨ دار ابنِ حزم بيروت)

## عِزَّتمند څوك؟

حضرتِ سَيِّدُنا مُوسىٰ كليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوكړو: اے رَبِّ اَعلٰى عَزَّوَجَلَّ! ستا په نِزد كوم بنده د زيات عِزَّت خاوند دے؟ الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اُوفرمائيل: هغه، څوك چه د بدله اخستلو د قُدرت لرلو باوجُود [بل] مُعاف كړي. (شُعَبُ الْإِيمان ج٦ ص٣١٩ حديث٨٣٢٧ دارالكتب العلمية بيروت)

## څوك چه مُعاف كول نه كوي هغه به نه مُعاف كيږي

د حضرتِ سَيِّدُنا جَرِير رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دے چه سركارِ دوعالَم

صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: څوك چه رَحم نه کوي په هغه رَحم نه کیږي او څوك چه مُعاف کول نه کوي هغه ته به مُعافي نه ورکوله شي. (مُسْنَد اِمام اَحمَد، ج۷ ص۷۱ حدیث۱۹۲٦٤ دار الفکر بیروت)

## د دُنیا او آخِرت اَفضل اَخلاق

حضرتِ سَیِّدُنا عُقبه بِن عامِر رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُ وائي چه ما د دواړو جهانو د سردار صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د مُلاقات کولو شَرف حاصل کړو نو فوراً مې د رَسُولِ اکرم صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لاس مُبارك اونیولو او هغوئي صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما لاس زر اونیولو. بیا ئې اُوفرمائیل: اے عُقبه! د دُنیا او آخِرت افضل اخلاق دا دي چه ته هغوئي سره تَعَلُّق جوړ کړه څوك چه تا جُدا کړي، او څوك چه په تا ظُلم اوکړي هغه مُعاف کړه او څوك چه دا غواړي چه عُمر ئې اوګډ شي او په رِزق کښې ئې فراخي اوشي، هغه دِ د خپلوانو سره صِلهٔ رِحمي (یعني ښه سُلوك) کوي. (اَلْمُسْتَدرَك لِلْحَاکِم ج۵، ص۲۲٤ حدیث۷۳٦۷)

## مُعافي کوئ مُعاف به شئ

د سرکارِ مدینهٔ مُنَوَّره، سردارِ مَکَّهٔ مُکَرَّمه صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: رحم کوئ په تاسو به رحم اوکړے شي او مُعاف کول اختیار کړئ الله تعالیٰ به تاسو مُعاف کړي. (مُسْنَد اِمام اَحمَد، ج ص٦٨۲ حدیث۷۰٦۲)

ہم نے خطا میں نہ کی تم نے عطا میں نہ کی
کوئی کمی سرورا تم پہ کروڑوں درود

آقا مونږه په خطاؤ کښې تاسو په عطاؤ کښې
هیڅ نه دے کمے کړے، په تاسو دِ وي ډیر دُرُود

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د معاف کوونکو بے حِسابه بخښنه

د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دے چه حُضُور سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: د قیامت په ورځ به اعلان کیږي: د چا اجر چه د الله عَزَّوَجَلَّ په ذِمَّهٔ کرم دے، هغه دِ پاڅي او جَنَّت ته دِ داخِل شي. تپوس به اوشي: د چا د پاره اَجر دے؟ هغه مُنادِي (یعني اعلان کوونکے) به وائي: "د هغه خلقو د پاره خوك چه مُعاف کوونکي وو." نو په زرګاؤ خلق به اودریږي او بے حِسابه به جَنَّت ته داخِل شي. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط ج١ ص٥٣٢ حدیث١٩٩٨)

## د قاتِلانه حملے کوشش کوونکے ئې مُعاف کړو

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اداره مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنه چاپ شوي د صفحو کتاب "سِیرتِ مُصطَفٰی" صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفحه ٦٠٤ نه ٦٠٥ کښې دي: په یو سفر کښې نَبِیِّ اکرم، رَسُولِ مُحترم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

آرام كولو چه غَورَث بِن حارِث د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهيد كولو په اِراده د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تُوره راواخسته او د تِيكي نه ئي راويستله، چه حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوب نه رابيدار شو نو غُورَث اُووئيل: اے مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)! اوس تاسو (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) زما نه څوك بچ كولے شي؟ حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: "**اللّٰه**" د نُبُوَّت له هَيبته ئي تُوره د لاسه پريوتله او سركارِ عِزَّت مآب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لاس مُبارك كښې راواخستله او اوئې فرمائيل چه: اوس به تا زما د لاسه څوك بچ كړي؟ غُورَث په زارئ مِنَت اُووئيل چه: هُم تاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مې بچ كړئ. رَحمَتِ عَالَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه پريښودو او مُعاف ئې كړو. چنانچه غَورَث راغے او خپل قوم ته ئې اُووئيل چه اے خلقو! زه د داسې كس د خوا نه راغلے يم چه هغه د دُنيا په ټولو اِنسانانو كښې د ټولو نه بِهتر دے.

(اَلشِفا ج١ ص١٠٦)

سلام اس پہ کہ جس نے خوں کے پیاسوں کو قبائیں دیں
سلام اس پہ کہ جس نے گالیاں سن کر دعائیں دیں

سلام په هغوئي چه د وِينو تږو ته عِزَّت وركړو چا
سلام په هغوئي چه د كنزلو په جواب كښې ئي وركړې دُعا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ظُلم كوونكي د پاره د هِدايت دُعا

په غزوهٔ اُحُد كښې د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غاښونه مُبارك شهيد او مخ مُبارك زخمي كړے شو خو خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه خلقو د پاره د ښېرې په ځائے سِوا هيڅ هُم اُو نه فرمائيل چه اَللّٰهُمَّ اهْدِ قَوْمِیْ فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ يعني اے الله عَزَّوَجَلَّ زما قوم ته هِدايت وركړې ځكه چه دا خلق ما نه پيژني. (اَلشِفا ج١ ص١٠٥ مركزِ اَهلِسُنَّت بَرَكاتِ رضا هِند)

سو يا كئے نابكار بندے روياكئے زار زار آقا

اُوده به وو په غفلت بندګان ژړل به په زار زار آقا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## جادو كوونكے ئې مُعاف كړو

په رَسُولِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې لَبِيد بِن اَعصَم جادو اوكړو نو رَسُولِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغے بدله وانغسته او هغه يهودنړه ئې هُم مُعاف كړه چا چه هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له زَهر وركړې وو. (اَلمَواهِبُ اللَّدُنِّية لَلقسطلانِی ج٢ ص٩١ دارالكتب العلمية بيروت)

كيوں ميری خطاؤں كی طرف ديكھ رہے ہو

جس كو ہے مری لاج وہ لجپال بڑا ہے

ولے زما د خطاګانو په لور ګورئ
ډیر لوئ او محترم دے زما شفیعِ مَحشر

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## شانِ مُصطَفیٰ

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا فرمائي چه خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به نه عادةً بدې خبرې کولې او نه تَڪَلُّفاً او نه په بازارانو کښې شور کولو والا وو او نه به ئې د بدئ بدله په بدئ ورکوله بلکه خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به معافي کوله او درګُزر به ئې کولو [يعني خبره به ئې په هير کښې اچوله]. (سُنَنُ التِّرمِذِی،ج۳ ص۴۰۹ حدیث۲۰۲۳)

## هره ورځ ۷۰ ځله معاف کول کوه

يو کس د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! مونږه خادِم څو ځله معاف کړو؟ حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاموشه پاتې شو. هغه بيا هُم هغه تپوس اوکړو، سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيا خاموشه پاتې شو، چه دريم ځل ئې تپوس اوکړو نو ارشاد ئې اُوفرمائيلو چه: هره ورځ ۷۰ ځله. (سُنَنُ التِّرمِذِی،ج۳ ص۳۸۱ حدیث۱۹۵۶ دارالفکر بیروت)

**مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡه د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: په عربئ كښې د اويا [۷۰] لفظ د زياتې بيانولو د پاره وي يعني هره ورځ ئې ډير ځله معاف كوئ، دا په داسې صورت كښې دي چه د غُلام نه خطاءً غلطي اوشي د نفس د خباثَت په وجه نه وي او قصور هُم د مالِك ذاتي شوے وي، د شريعت يا قومي او مُلكي قصور نه وي ځكه چه دا قصور نه مُعاف كيږي. (مِراٰة ج٥ ص١٧٠)

## د كنزلو نه ډكو خطونو باندې د اعلٰى حضرت معاف كول

**كاش چه!** په مونږ كښې دا جذبه پيدا شي چه مونږه د خپل ذات او د خپل نفس د پاره د سره غُصَّه كول پريږدو. لكه څنګه به چه زمونږه د بزرګانو جذبه وه ځكه چه كه په هغوئي باندې به چا څومره ظُلم هُم كولو خو هغه حَضَراتو به په هغه ظالِم باندې هُم مهرباني كوله چنانچه په ”حياتِ اَعلٰى حضرت“ كښې دي چه: زمونږ د رهبر اعلٰى حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡه په خِدمت كښې چه يو ځل ډاك پيش كړے شو نو بعضې خطونه د مُغَلَّظاتو (يعني كَنده كَنزلو) نه ډك وو. عقيدتمند خلق په غُصَه كښې راغلل او وئيل ئې چه مونږه د هغه خلقو خِلاف مُقَدَّمه درج كوو. اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام

اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اِرشاد اُوفرمائیلو: "کوم خلق چه د صِفتونو نه ډك خطونه راليږي مخکښې په هغوئي باندې جائدادونه تقسيم کړئ نو بيا په کنزلو کوونکو باندې مُقَدَّمه درج کړئ." (حیاتِ اَعلٰی حضرت ج۱ ص۱۴۳ مُلَخَّصاً) مطلب دا چه صفتونه کوونکو ته انعام نه ورکوئ نو بيا د بدئ کوونکو نه ولے بدله اخلئ!

احمد رضا کا تازہ گلستاں ہے آج بھی
خورشید علم ان کا درخشاں ہے آج بھی

تازه دے هُم ترننه ګلستان د اَحمد رضا
نن هُم د هغوئي د عِلم هر طرف ته ده رڼا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَى الله! اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو اَهَم مَدَني وَصِيَّت

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! زما عمر د دې لِيك د وخته پورې تقريباً ٦٠ کاله شوے دے، ساعت په ساعت مرګ ته ورنزدے کيږم، هيڅ معلومه نه ده چه کله مې سترګې پټې شي. د اللهُ رَحمٰن عَزَّوَجَلَّ په اوچت دربار کښې د ايمان د سلامتيا او په ځنکدن او قبر او حشر

کښې د امن و امان، او د بے حسابه بخښنې او په جَنَّتُ الفِردَوس کښې د خوږ مَدَنــي حبیب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګاونډ طلبګار یم. ما په خپل مختصر شان ژوند کښې د دُنیا ډیرې قیصے لیدلي دي، اِخلاص کم او ریاکاري ډیره ده، وفا کمه او خوشامدې ډیرې دي، د دې نه زیاته به نوره څه بے وفائي وي چه هغه مور او پلار چا چه [په اولاد] په زرګاؤ احسانونه کړي وي خو که د هغوئي یوه خبره هُم پرې بده اولګي نو ناخَلَف اولاد د هغوئي ټول احسانونه هیر کړي او د هغوئي سره تَعَلُّقات ختم کړي! آه! مکار او چالاکه شیطان په زړونو او دماغو کښې ډیرې زیاتې خرابئ پیدا کړي دي! اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په **دعوتِ اسلامي** کښې په لکونو لکونو خلق شامل دي څنګه چه عام طور تنظیمونو ته خلق څي او راځي هُم دغسې د **دعوتِ اسلامي** نه هُم څه خلق په خفګان وغیره جُدا شوي دي، د مَدَنــي ماحول نه د لرې کیدو په وجه په بعضو کښې بے عملي هُم پیدا شوې ده، ځینې خفه شوو اسلامي ورونړو خپل جُدا ګروپ هُم جوړ کړے دے، بعضو زما خِلاف ډیر څه وئیلي او لیکلي دي او د مرکزي مجلِسِ شوریٰ ئې هُم ډیر زیات مخالفت کړے دے خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې الفاظو د لیکلو پورې **دعوتِ اسلامي** مسلسل مخ په ترقئ روان دے او یوے ډلې هُم په ظاهره د **دعوتِ اسلامي** نه وړاندې کیدل څه چه برابرې ئې هُم اونکړے شوه. ما په تنظیمي کارونو کښې د

ژوند کافي حِصّه تيره کړي ده، لِهٰذا د خپلو تجرباتو په رڼړا کښې د ټولو اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو په خدمتونو کښې صرف د آخِرت د ښيګړې د پاره لاسونه جوړه کووم او ټولو ته **مَدَنـي وَصِيَّت** کووم: زما دا خبره د هميشه د پاره ياده ساتئ چه زما په ژوند او زما د مرګ نه پس هُم په **دعوتِ اسلامي** کښې يو ځل د شامليدو نه پس د دعوتِ اسلامي په تَشَخُّص [يعني جُدا انداز] (مَثَلًا شنه عِمامه شريف وغيره) کښې د طريقۀ کار نه عليٰحده هيڅ کله هُم د هيڅ قِسم "**جُدا ډله**" مه جوړوئ، د دِين د کار په حواله هُم که تاسو خپله جُدا څه سلسله شروع کړه نو د غِيبتونو، تُهمتونو، بدګمانو، زړه ازارولو، په خپل مينځ کښې د دُښمنئ او په خپل مينځ کښې د نفرتونو وغيره وغيره نه ځان ساتل به تقريباً مشکل شي بلکه کيدے شي چه بيشميره مسلمانان په داسې قِسم آفتونو کښې ګرفتار شي. که څوك دا ګنړي چه د **دعوتِ اسلامي** نه د جُدا کيدو نه پس چه ما جُدا ډله جوړه کړي ده نو د دِين فلانکے فلانکے غټ غټ کارونه مې کړي دي نو زه د هغه تَوجُّه دے طرف ته راګرځول غوارم چه د جُدا کيدو نه پس خو هغه چرې د **غِيبتونو** وغيره ګُناهونو په سپيره والي کښې اخته شوے نه وو؟ که پکښې نه وو اخته شوے نو صد کروړه دِ ئې مُبارك شي! او که پکښې اخته شوے وو نو د خپل ضمِير نه دِ تپوس اوکړي چه زما د فلانکو فلانکو **مُسْتَحَبو** ديني

کارونو وزن زيات دے او که د دې دِيني کارونو په کولو کښې چه رانه کوم **غِيبتونه** وغيره حرام کارونه شوي دي د هغے وزن زيات دے؟ که د **اللّٰه** تعالیٰ ويره لري او د عِلمِ دِين بَرَکتونه ورسره وي او ضمير ئې ژوندے وي نو هُم دا جواب به ورکوي چه يقيناً د تهول ژوند د **مُسْتَحَبو** کارونو په مقابَله کښې صرف يو ځل کړے **د گناه نه ډك غِيبت** زيات وزن لري ځکه چه په **مُسْتَحَب** کار نه کولو هيڅ وعِـيد [يعني د عذاب خبردارے] نشته او په **غِيبت** باندې د عذاب وَعِيد شته دے. معلومه شوه چه يو ځل په **دعوتِ اسلامي** کښې د شامليدو نه پس په ويستلو يا پخپله وتلو باندې جُدا ډله جوړولو کښې **مِنۡ حَيۡثُ الۡمَجۡمُوۡع** (يعني مجموعي طور) د نقصان انديښنه زياته ده.

## د فَتَاوىٰ رَضَوِيّه اَهَم اِقتِباسات

صحيح خبره دا ده چه داسې ديني کار چه د هغے په وجه په مسلمانانو کښې د نفرت حالات پيدا کيږي او د هغے کول فرض، واجِب يا سُنَّتِ مُـؤَکَّـده نه وي نو هغه کار پريښودل مُناسِب وي اګر که افضل او **مُسْتَحَب** وي. ✿ چنانچه په يو مُقام کښې **اعلیٰ حضرت** رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د مسلمانانو د اِتِّـحاد د اهميت په باره کښې نقل کوي: ”د خلقو د تاليِفِ قَلبي (يعني د زړه ساتلو) او هغوئي د **مُجتَمَع** (يعني مُتَّحِد) ساتلو د پاره **غوره** [کار] **پريښودل** د انسان د پاره جائز دي چه خلق په

نفرت کېښي اخته نه شي ځنګه چه نَبِيِّ کریمرَءُوفٌ رَّحِیم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بيتُ الله شريف عِمارت په دې وجه د اَهلِ قُرَيش په بُنيادونو قائم پرېښودو چه خلقو نوے نوے اسلام قبول کړے دے هغوئي چرې په غلط فهمئ کښې اخته نه شي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه مُخَرَّجه، ج۷، ص۶۸۰ مُلَخَّصاً) ❁ د تَنفِيرِ مُسلِمِين (يعني مسلمانان په نفرت کښې د اخته کولو) نه د بچ کيدو د پاره ضرورتاً د مُستَحَبو د پرېښودو حُکم دے. ځنګه چه اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د مسلمانانو په مينځ کښې د مينے او مَحَبَّت د فضا قائمې ساتلو يو مَدَني اُصُول بيانوي، فرمائي: په اِتيانِ مُستَحَب [يعني په مُستَحَب باندې عمل کولو] او غيرِ اَولٰی پرېښودلو کښې دِ مُداراتِ خلق [يعني د خلقو خاطِر مدارَت] او د [هغوئي د] زړونو رِعايت اهم اوګڼړلے شي او د فِتنه او نفرت او تکليف او وَحشَت باعِث جوړيدو نه دِ ډيره ډېره اوکړے شي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه مُخَرَّجه، ج۴، ص۵۲۸)

❁ اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د شريعتِ مُطَهَّره قاعِده بيانوي، فرمائي: دَرْءُ الْمَفَاسِدِ اَهَمُّ مِنْ جَلْبِ الْمَصَالِح يعني د خرابيانو اَسباب لرې کول د ښو خبرو د اسبابو حاصلولو نه اَهَم دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه مُخَرَّجه، ج۹، ص۵۵۱ رضا فاؤنډيشن مرکزُ الاولياء لاهور)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## چا چه تَشَخُص بدل کړو!

پاتې شو هغه چا چه د **دعوتِ اسلامي** تَشَخُّص پرېښودے دے او بغیر د شرعي اِجازته د **دعوتِ اسلامي** هیڅ قِسم **مُخالَفَت** هُم نه کوي او په **غِیبتونو، تُهمتونو** او بدګُمانو وغیره کښې د اخته کېدو نه بغیر په خپل ترکیب دیني خِدمات کوي، **اللّٰه** تعالیٰ دِ د هغوئي کوششونه قبول کړي. خو هغوئي چه چا تَشَخُّص بدل کړے دے او د جُدا ډله جوړولو نه پس بے د شرعي اِجازته د **دعوتِ اسلامي مخالَفَت** کوي او د نیکۍ د دعوت عامولو والا دا مَدَنــي تَحرِیك د کمزوري کولو په مذموم [یعني غلطو] کوششونو کښې مصروف وي، او د دې مقصد د پاره په غیبتونو، تُهمتونو، بدګُمانو، عیب لټولو، بدو خبرو خورولو، الزامونو لګولو او **چُغلۍ** کښې اخته وي او دا په خپل زُعمِ فاسِد [یعني غلط ګُمان] کښې د دِین ډېر غټ خِدمت ګڼړي، داسې کسان دِ سوچ اوکړي چه دا د دِین خِدمت نه دے بلکه د اِنتهائي درجے مذموم [یعني غلط] حَرَکت دے بلکه شرعاً په دې ناجائزه کارونو کښې اخته کیدل خپله اعمال نامه د ګناهونو نه ډکول دي. هُم دغسې چه څوك تَشَخُّص برقرار ساتي او د **دعوتِ اسلامي** مخالفت کوي او خلقو ته نفرت ورکوي او **دعوتِ اسلامي** او د دې طریقۀ کار ته نقصان رسوَل د هغه مقصد وي هغه به هُم ناجائزه کار کوونکے ګڼړلے شي.

## بده خبره خورول حرام دي

عام طور داسې كيږي چه كله څوك د يو كس مخالفت شروع كړي نو بيا په هغه پورې فُضول سپكـې خبرې كوي او د وړې خبرې نه غټه جوړوي او د هغه كمزورئ او خطاګانې هر ځائے بيانوي. (خو چه الله تعالیٰ د چا حفاظت كوي) چه كله د هغوئي په خپل مينځ كښې تعلُقات ښه وو نو د هغه د خوَلو بوئي به پرې هُم لكه د عطرو په شان لګيدو او چه خفګان ئې پيدا شو نو اوس پرې د هغه عِطر هُم بدبوئي داره لګي. ياد ساتئ! د يو مُبَلِّغ بِالخصوص د سُنِّي عالِم كومه كمزوري يا خطا بے د مَصلحَتِ شرعي نه چا ته ښكاره كول يا په خلقو كښې هغه بد يادول د نيكئ د دعوت او د اسلام د تبلِيغ د پاره د ډير زيات نقصان خبره او د آخِرت د عذاب باعِث دي. اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، جِلد ، صفحه ۵۹٤ كښې فرمائي: او د اَهلِسُنَّت نه چه په تقديرِ اِلٰهِـی داسې لغزِش فاحِش اوشي د هغے پټول واجِب دي ځكه چه مَعَاذَالله خلق به د هغے په وجه بد اِعتِقاده شي نو كومه فائده چه د هغوئي د تقرير او تَحرِير نه اسلام او سُنَّت ته رسيدله په هغے كښې به خلل راشي. د هغے خورَول، اِشاعتِ فاحِشه (يعني بده خبره خورول) دي او اِشاعتِ فاحِشه د نَصِ قُرآنِ عظيم نه حرام [دے] قَالَ اللهُ تعالٰی (يعني الله تعالیٰ فرمائي):

اِنَّ الَّذِیۡنَ یُحِبُّوۡنَ اَنۡ تَشِیۡعَ الۡفَاحِشَۃُ فِی الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا لَہُمۡ عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ۙ فِی الدُّنۡیَا وَ الۡاٰخِرَۃِ ؕ

(پ۱۸، النور: ۱۹) مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: هغه خلق څوك چه غواړي چه په مسلمانانو كښې بده خبره خوره شي، هغوئې لره دردوونكے عذاب دے په دُنيا او آخِرت كښې.

## د دعوتِ اسلامي نه جُدا شوو د پاره اِتمامِ حُجَّت

څوك چه د اوسه پورې زما نه خفه شوي وي يا د مركزي مجلِسِ شُورىٰ نه خفه شوي او جُدا شوي دي. كه په هغوئې كښې د كوم كوم كس زما په وجه زړه ازاريدلے وي يا مې د هغوئې د څه قِسم حق تلفي كړې وي نو د هغوئې نه په جوړه لاسونو **مُعافي** غواړم، دواړه غُلامزادګان او نِګران و اَراكِينِ شُورىٰ هُم مُعافي غواړي، ما او دوئې د **خُدا** و **مُصطَفٰى** عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره مُعاف مُعاف او مُعاف كړئ. او چا چه [زمونړه ذاتي] حق تلفئ كړې دي مونړه تولو هُم د **الله** و رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره هغه ټول مُعاف كړل. د خفه كيدو په وجه يا د اختلاف كولو په وجه چه چا خپل تنظيمونه جوړ كړي دي يا ئې جُدا ګروپونه جوړ كړي دي، هغه ټولو ته د زړه د اخلاص سره دعوت وركووم چه د **الله** و رسُول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر **صُلح** [يعني روغه اوكړئ]، زه صرف د رضائے

اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ د پاره د هر خفه مسلمان سره غير مشروط طور د **صُلح** د پاره تيار يم. او چه څوك تنظيمي اختلافات د مُذاكراتو په ذريعه حل كول او **صُلح** كول غواړي نو د هغوئي د پاره هُم دروازے خلاصے [يعني بيرته] دي، زر زر رابطه اوكړئ او د **مركزي مجلِسِ شُورىٰ** سره كښيني. كه تاسو حُكم اوكړئ نو په مُمكِنه صورت كښې به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ د شُورىٰ سره زه هُم كښينم، راشئ راشئ چه د **اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت** عَزَّوَجَلَّ په رَحمت د شيطان منصوبے ناكامه كړو، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ په شريكه به د دِين ډير ډير مَدَني كارونه كوو.

## كه تاسو دعوتِ اسلامي سره كار كول نه غواړئ نو......

كه كوم يو خفه اسلامي وورور **دعوتِ اسلامي** سره په شريكه كار كول نه غواړي نو كم از كم خفګانونه دِ ختم كړي او مونږ ته دِ د مُعافئ خيرات راكړي او د دي دِ مونږ ته اطلاع هُم راكړي او د مسلمان د زړه خوشحالولو د ثواب حقدار دِ جوړ شي ځكه چه په دي طريقه به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ نفرتونه او جدائي هُم ختمه شي او شيطان به مخ تورن شي او د مُعاف كوونكي مخ به روښانه شي. يو ځل بيا مونږه د دي حديثِ پاك په خاطر مُعافي غواړو چه په هغے كښې زمونږه خوږ خوږ آقا مَكِّي مَدَني مُصطَفىٰ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اِرشاد فرمائي: ”څوك چه خپل مسلمان وروړ ته معذرت اوکړي او هغه (بے د شرعي اِجازته) د هغه عُذر قبول نه کړي **نو هغه ته به په حوضِ کوثر باندې حاضریدل نه نصیب کیږي.**“ (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط ج٤ ص٣٧٦ حدیث٦٢٩٥) یاد ساتئ! داسې خبره کول بالکل مُناسِب نه دي چه اِلیاس دِ پخپله زمونږ څنګ ته راشي که پخپله نه شي راتلے نو نِګرانِ شُوریٰ یا یو رُکنِ شُوریٰ دِ زمونږه څنګ ته یا زمونږه د فلانکي ”مشر“ څنګ ته را اولیږي. د داسې خبرو کوونکو په باره کښې دا وسوسے راتلے شي چه دا صُلح کول نه غواړي ځکه د تاَلـمتول نه کار اخلي، چه مونږه د لیك په صورت کښې در وړاندې شوي یو نو بیا د مُخلِصینو د پاره څه رُکاوټ دے! هر خفه اسلامي وروړ ته پکار دي چه هغه د الله تعالیٰ د رضا د پاره رامخکښې شي او غاړه راکړي. که راتلل او مخامخ کیدل نه غواړي نو یو رکنِ شُوریٰ سره دِ کم از کم په فون باندې رابطه اوکړي.

ع     اللہ کرے دِل میں اُتر جائے میری بات

یعني الله دِ اوکړي چه تاسو زما په خبره عمل اوکړئ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!     صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## یا اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ ته ګواه اُوسه

یا رَبِّ مُصطَفٰی عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ته ګواه اوسه، ما د خپلو جُدا شوو اسلامي وروڼړو د پاره د صُلح پیغام عام کړو. اے زما خوږه خوږه اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ! زما د خفه اسلامي وروڼړو په زړونو کښې زما مِسکِین د پاره رَحم واچوې چه هغوئي ما ته د مُعافئ خیرات راکړي او زما سره صُلح اوکړي، یا اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ! ته زما په زړه خبردار ئې چه د دې صُلح په درخواست کښې زما اصل مقصد صرف صرف او صرف د آخِرت فائده ده، زه د مرګ نه مخکښې مخکښې فقط ستا د رِضا د پاره هر خفه مسلمان سره صُلح [یعنې روغه] کول او خپل خفه اسلامي وروڼړه راضي کول غواړم. یا اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ! زه ستا د پټ تدبِیر نه ډیر ویریږم، اے زما خوږه **ربّ** تعالیٰ عَزَّوَجَلَّ! زما نه کله هُم ناراضه مه شې، زما پاکه **ربّ** تعالیٰ عَزَّوَجَلَّ! زما ایمان د یو ساعت [یعنې د یوے لَحضے] د کرورمې حِصّے د پاره هم هیڅ کله زما نه مه جُدا کوې، یا اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ! زما او زما د خفه اسلامي وروڼړو او د هر **دعوتِ اسلامي** والا بے حِسابه بخښنه اوکړې. یا اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ! د خپل خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر د ټول اُمَّت بخښنه اوکړې. یا اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ زمونږه په صفونو کښې اِتِّحاد پیدا کړې. یا اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ! زمونږه فِکرونه یو شان کړې، یا اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ! زمونږه د زړونو نه د منصب غوښتلو

خيال اُوباسے او مونږ ته په شريكه په اخلاص سره ستا د دِين د خِدمت كولو سعادت رانصيب كړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سنتیں عام کریں دین کا ہم کام کریں — نیک ہو جائیں مسلمان مدینے والے

چه د سُنّتو خِدمت اوكړي د دين كار اوكړي
مسلمانان دِ شي ټول نيك مدني خوږه سرداره

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! — صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوْا اِلَى اللّٰه! — اَسْتَغْفِرُ اللّٰه
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! — صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غِيبت خِلاف اِعلانِ جنګ دے

آه! ”غِيبت“ د اُمَّت اكثرِيَّت په خپل قيد كښې ډير ګلك ترلے دے، شيطان د غِيبت په ذريعه په ډيره مضبوطه طريقه خلق جَهنَّم طرف ته ټيلوهي. په هوش كښې راشئ او! **د غِيبت خِلاف اعلانِ جنګ** اوكړئ او په مورچه كلَك اودريږئ! چا چه تر اوسه پورې څومره غيبتونه كړي وي د هغے نه توبه اوكړئ او د هغے مُعافي تلافي اوكړئ او **عَـزمِ مُصَـمَّم** [يعني پخه اِراده] اوكړئ چه **”نه به غِيبت كوو او نه به ئې اورو“** اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ!

افسوس په کروړونو افسوس! غِيبت زمونږه مَدَني ماحول د وَينو په شان خوري لِهٰذا د **دعوتِ اسلامي** ټولو ذِمَّه دارانو اسلامي وروڼو او اسلامي خويندو ته زه په جوړه لاسونو دا ''مَدَنــي عرض'' کووم چه د غِيبت خِلاف د اِعلانِ جنګ په مُهِم کښې د غِيبتونو دروازو ته جندرے [يعني تالے] واچوئ، تر اوسه پورې چه هر څوك ستاسو د ذِمّه دارئ په دوران کښې د مَدَنــي ماحول نه جُدا شوي دي، د هغوئي په باره کښې څله سوچ اوکړئ چه چرې داسې خو نه وو شوي چه هغوئي ستاسو **غِيبتونه** کړي وو او تاسو ته غُصَّه درغلي وه او په دې وجه [هغوئي خفه شوي وو]، يا تاسو پخپله د هغوئي **غِيبتونه** کړي وو او په هغے هغوئي خفه شوي وو او مَدَني ماحول ئې پريښودے وي. که داسې وي نو ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ او د **الله** تعالیٰ د رِضا د پاره فوراً فوراً، خو هغوئي راغواړئ مه بلکه پخپله د هغوئي څنګ ته ورشئ دواړه لاسونه ورته جوړه کړئ، په ښپو ورته پريوځئ بلکه اے کاش! چه په ژړا ژړا ورسره د مُعافئ تلافئ ترکيب جوړ کړئ او غاړه ورکړئ او راضي ئې کړئ بلکه هر يو جُدا شوے اولټوئ او پخپله ورشئ او لاسونه ورته جوړه کړئ او زاري مِنَت ورته اوکړئ او دوباره ئې مَدَني ماحول ته راولئ او د اِنفرادي کوشش په ذريعه هغه ټول بيا د سُنَّتو په خِدمت کښې مصروف کړئ. (د چا سره چه تنظيمي ذِمَّه داري نشته هغه دِ هُم دغسې اوکړي، خو چه

په چا باندې تنظيمي پابندي لګېدلې وي نو هغوئي مه چيړئ، د هغوئي په باره کښې چه غټ ذِمَّه داران څه تنظيمي فيصله اوکړي په هغې عمل اوکړئ)

اے خاصہ خاصانِ رُسل وقتِ دُعا ہے
اُمت پہ تری آکے عجب وقت پڑا ہے
چھوٹوں میں اطاعت ہے نہ شفقت ہے بڑوں میں
پیاروں میں محبت ہے نہ یاروں میں وفا ہے
جو کچھ ہیں وہ سب اپنے ہی ہاتھوں کے ہیں کرتوت
شکوہ ہے زمانے کا نہ قسمت کا گلہ ہے
دیکھے ہیں یہ دن اپنی ہی غفلت کی بدولت
سچ ہے کہ بُرے کام کا انجام بُرا ہے
ہم نیک ہیں یا بد ہیں پھر آخر ہیں تمہارے
نسبت بہت اچھی ہے اگر حال بُرا ہے
تدبیر سنبھلنے کی ہمارے نہیں کوئی
ہاں ایک دُعا تیری کہ مقبول خدا ہے

**د شعرونو ترجَمه:** (۱) اے په رسولانو کښې خاص رسوله! (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د دُعا وخت دے، ستاسو په اُمَّت باندې ډير عجيبه وخت راغلے دے. (۲) نه په وړو کښې اِطاعت شته او نه په غټو کښې شفقت، نه په خپلو کښې محبت شته او نه په يارانو کښې وفا شته (۳) چه څه دي هغه ټول زمونږه د خپلو لاسونو کړه دي، نه د زمانے نه ګِيله ده او نه د قِسمت نه. (٤) زمونږه دا حال د خپل غفلت په وجه دے، او رښتيا ده چه د بدو انجام بد وي. (۵) که مونږ نيك يُو او که بد يو خو آخر ستاسو اُمَّتيان يُو، که حال مو بد وي نو نِسبت مو ډير ښه دے. (٦) د حال ښه کيدو څه تدبير باندې مونږ نه پوهيږو، خو ستاسو د دُعا حاجتمند يو چه هغه د الله تعالیٰ په بارګاه کښې قبوله ده.

## ما اِلياس قادري مُعاف کړو

ټولو اسلامي ورونړو ته په جوړه لاسونو عرض کووم که ما يا غلام زادګانو او نګران او اَراکِينِ مجلِسِ شُورىٰ کښې کوم يو کس

ستاسو **غِيبت** کړے وي يا ئې درپورې **تُهمت** تړلے وي، رټل ئې کړي وي، که په هر شان ئې ستاسو زړه ازارولے وي نو ما او هغوئې مُعاف مُعاف او مُعاف کړئ. په ځان او مال، اَهل و عيال او عِزَّت او آبرو کښې چه په دُنيا کښې کوم وړوکي نه وړوکے او غټ نه غټ حُقُوقُ العِباد (يعني د بندګانو حقونه) تصوُّر کښې راوستلے شي، تاسو فرض کړئ چه ستاسو هغه حقونه ما او غُلام زادګانو او نګران او اَراکِينِ شُورىٰ ضائع کړي دي، هغه ټول حقونه په سوچ کښې راولئ او زمونږه په وجه ضائع شوي حقونه مُعاف او مُعاف کړئ او د عظيم ثواب حقدار جوړ شئ. لاسونه تړلے **مَدَنـي عرض** کووم چه کم از کم يو ځل د زړه د اِخلاصه اُووائے چه: ”ما د **الله** تعالىٰ د رضا د پاره محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي، غُلامزادګان او نِګران او اَراکِينِ شُورىٰ مُعاف کړل.“ مونږه ټولو هُم زمونږه ټولې غټې او وړې حق تلفيانے کولو والا د **الله** و **رَسُول** عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره مُعاف کړل.

## قرضخواۀ ته مَدَنـي عرض

که د چا په ما څه قرض وي يا ترې ما څه څيز عارِيَتاً اغستے وي او بيرته مې نه وي ورکړے نو هغه دِ د **دعوتِ اسلامي** د مرکزي مجلِسِ شُورىٰ نِګران يا غلامزادګانو سره رابطه اوکړي او که

وصولول نه غواړي نو د **اللّٰه** تعالیٰ د رضا د پاره دِ راته مُعافي اوكړي او د آخِرت د ثواب حقدار دِ جوړ شي. څوك چه زما ذاتي مقروض دي، هغوئي ته ما خپلې ټولې ذاتي قرضے مُعاف كړې. يا اِلٰهِی ـــه

تو بے حساب بخش کہ ہیں بے حساب جرم
دیتا ہوں واسطہ تجھے شاہِ حجاز کا

بے حسابه مې بخشش كړې، بے حِسابه دي جُرمونه
زما ربه په خاطِر د خوږ نبي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَی اللّٰه! اَسْتَغْفِرُ اللّٰه
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## چاړئ خبرې شروع كړې!

د غِيبت كولو او اوريدلو عادت ختمولو د پاره او د لمونځونو او سُنَّتو د عادت جوړولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، د سُنَّتو ډكې هفته واره اِجتِماع كښې په پابندئ سره شِركت كوئ، د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قَافِلو** كښې د **عاشِقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډك سفر كوئ، كامياب ژوند تيرولو او د آخِرت ښائسته كولو د پاره د **مَدَني انعاماتو** مطابق عمل كوئ او هره ورځ د **فِكرِ مدينه** په ذريعه [د مَدَني انعاماتو] رِساله ډكوئ او د هرې

مَدَنـي مياشتې په يکُم تاريخ ئې خپل ذِمَّه دار ته جمع کوئ ستاسو د ترغيب او تَـحريص د پاره يو **مَدَنـي سپرلے** ورانديږ کووم. چنانچه د ضِلع خوشاب (پاکستان) په يو کلي کښې د يوے اسلامي خور **ژبه ناخاپه بنده شوه،** په يو علاج ئې هُم فائده اونشوه، د عِلاج د پاره ئې **باب الْـمدينه** (کراچۍ) ته راوستله، دلته هُم ډاکټري علاج کار اونکړو او د **ژبې بنديدو** ئې تقريباً شپږ مياشتې شوي وې. هغے ته د **تبليغ قُرآن و سُنَّت** عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د عالَـمي مَدَنـي مرکز فيضانِ مدينه په تـهه خانه کښې د هر اِتوار په ورځ تقريباً دوه نيمي بجے کيدو والا د اِسلامي خويندو د سُنَّتو ډکې اِجتِماع کښې د شريك کيدو سعادت حاصل شو. هلته پرې يوے اسلامي خور **اِنفرادي کوشش** اوکړو او مُسلسل دولسو اِجتِماعاتو کښې ئې د حاضرۍ د پاره راضي کړه، هغے ترتيب وار شرکت کول شروع کړل او په ۸ **رَمَضَانُ الْمُبَارَك**۱٤۳۰ھ د هغے شپږمه اِجتِماع وه، **د هغه اِجتِماع په آخِره کښې د صلوٰة و سلام وئيلو په دوران کښې** اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ **ناخاپه هغه اسلامي خور خبرې شروع کړې!**

حضرت شبیر و شبر کے طفیل  ٹال ہر آفت اے نانائے حسین

د حضرتِ حَسن او حُسين په خاطر
حصار کړې هر آفت زما نه يا نبـي

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!  صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کېدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتُو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نیّتونو سره ټوله شپه تېروئ ❁ د سُنَّتُو د تربیّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائ ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپل ځان د اصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ



MC 1286


فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net